

# د ډیپورټیشن پر وړاندې مقاومت

## معلومات او ملاتړ

BERLIN & BRANDENBURG

ایا تاسو د ډیپورټیشن ګواښ سره مخ یاست؟

او ایا تاسو د کوم راتلونکي ډیپورټیشن
په اړه اوریدلي دي؟

د ډیپورټیشن پر وړانده داسی لارې چارې شته چې
په اړه یې معلومات په ده پاڼه کې موندلی شی

# د ډیپورټ پر وړانده د مقاومت لارې

## په برلین او براندینبرگ کې ډیپورټیشن څنګه ترسره کیږي؟

له هرڅه دمخه داسه کومه مشخصه نښه شتون نلري چې تاسو ته پته ولړیږی چی د ډیپورټ ګواښ سره مخ یاست. اما تاسو کولی شی‌پوه شی چې تاسو ډیپورت کیږې او که نه. د مرستې لپاره تل د یو وکیل او یا قانوني مرجع څخه مرسته وغواړی.

ډیری ډیپورتیشن د شپې لخوا د 2 او 8 بجو تر سرهکیږي . تاسو د پلان شوي ډیپورت کیدو نیټه او وخت نه خبر نه یاست. پولیسممکن ستاسو دکور شاته ړاشي یا دوی ممکن تاسو د بهرنیو چارو دفتر سره ونیسيAusländerbehörde ډیری ډیپورت د الوتنې لهلارې ترسره کیږي. معمولآ دوی). ستاسی کورنی یوازې ډیپورت کوي. او که د تاسو د ډیپورټ کولو لومړی هڅې مخنیوی وشي، دوی ممکنستاسو د کورنۍ غړي په جلا جلا توګه ډیپورټ کړي. په کمو مواردو کې دوی ممکن تاسو د ډیپورت په زندان کی واچوي. برلین اوس کومدډیپورت جلا زندان نه لري. په هر حال داسې لارې شتون لري چې خلک د ډیپورت پروړاندې مقاومت کوي. د مثال په ټوګه دا لانده لارې:

## په کور کې د ډیپورت پر ولاندی مقاومت

- که چا چیرته د ډیپورتیشن په هکله اوریدلي وي نو دوی د خپل ملګرو په کور کې پاته کیږي. که خلک په کمپ کې اوسیږي، نو دوی خپله خونه د ملګرو سره بدلوي.

یادونه: که څه هم پولیس په قانوني توګه یوازی ستاسو د خوني دلټولو اجازه لري ، دوی ډیری وخت تاسو دموندلو لپاره ټول کمپ لټوي.

- خو په کمپ د شپې لخوا منظمه پېره وجود لري ترسو یو کس ویښ وي چی خلک د پولیسو د راتلو نه مخکی خبر کړي.

یادونه: په ځینو مواردو کې کله چې خلک د ډیپورتیشن پر ضد مقاومت وکړي نو پولیس د زور او تاوتریخوالي نه کار اخلي تر څو تاسوونیسي.

- هغه خلک چې په کرایي اپارتمانو کې اوسیږي اکثرا دوی د پولیسو د دروازه ټک ټک کولو ته ځواب نه ورکوي . تاسو کولی شئ له هغویڅخه د پریکړې غوښتنه وکړی.

یادونه: پولیس په زینو مواردو کی کور ته د ننوتلو لپاره دروازې ماتوي.

- خو که تاسو کوم ډاکټر سند لرئ چې دا ثابته کړي چې تاسو د رواني ناروغۍ له امله نشی کولی چی سفر وکړی نو تاسو باید پولیسو تهدا سند وښایاست نو پولیس نشي کولی چی تاسو ډیپورت کړي.
- ځینې خلک خپل پاسپورټونه له لاسه ورکوي او د نوي لپاره غوښتنه نه کوي. ځینې هیوادونه پرته له پاسپورټ نه د دوی راستول نه مني. پهده باره کی هم قانوني مشورې لپاره غوښتنه وکړی.

## د ډوبلین د ډیپورتیشن پر ضد مقاومت

- د ډوبلین سیستم خلک دې ته اړ کوي چې په لومړي اروپایي هیواد کې چې دوی ورننوتلي پناه غوښتنه وکړي. د مثال په توګه؛ که ستاسو دګوتو نښې په ایټالیا کې اخیستل شوی وي نو آلمان به هڅه وکړي چی تاسو بیرته اټالیا ته ولیږي. که چیرې آلمان په شپږو میاشتو کېستاسو په لیږدولو کې پاتې راشي نو بیا آلمان مکلف دی چی ستاسو د پناه غوښتنې د پروسه مسؤلیت په غاړه واخلي. که چیرته الماني چارواکي پدې پوه چې تاسو د ډیپورتیشن څخه پټ یاست نو دوی به ستاسو شپږ میاشتنی نیټه تر 18 میاشتو پورېوغځوي.
- ځینې خلک تر 18 میاشتو پورې پټ وي تر هغه چې آلمان د دوی پناه غوښتنې د پروسې مسؤلیت په غاړه واخلي.
- په یاد وساتی ځینې کلیساوی د دوبلین د ډیپورتیشن د ګواښ پر واندی خلکو ته خوندي ځایونه ور کوي . د مرستی لپاره له یو روحانی یاکشش څخه مرسته و غواری

یادونه: اوسلندربوردهAusländerbehörde ځینې وختونه خلکو ته مکتوب ورکوي چې له دوی) څخه غوښتنه کوي چې هره شپه په خپلهخونه کې پاته شي. دا پدې مانا ده چې دوی به په راتلونکو ورځو کې د ډیپورتیشن لپاره راشي.پدې حالت کې ډیری خلک په خپله خونه کښه پاتی کیږي، مګر د دروازه ترشاه یو نوټ پریږ دي چې ووایی دوی پلي تګ یا نایت کلب ته تللي (پدې یادونه کې تاسو باید خپل بشپړ نوم،نیټه او د ځای پته ولیکی.

یادونه: د قانوني مشاور سره اړیکه ونیسئ ترڅو وګورئ چې ستاسو د ډوبلین دوره پای ته رسیدلی.

## په یو تجارتي الوتکه کی د ډیپورتیشن پر وړانده مقاومت

- تاسو دا حق لرئ چې هوایی ډګر ته په لاره کې د وکیل سره اړیکه ونیسئ.
- کله چی تاسو په الوتکه کی وی نو خپل مقاومت وکړی او چیغې ووهی او دا وښی چی نه غواړی چی کینی او یا څملی، نور خلک خبرکړی چې ستاسو د خوښې خلاف ډیپورتیشن کیږي. او له نورو مسافرینو نه غوښتنه وکړی چې ستاسو دمقاومت ملاتړ وکړي ځکه که یومسافر هم ناست نه وي الوتکه پرواز نشي کولی.
- ځینې وختونه خلک غواړي له پیلوټ سره خبرې وکړي. که چیرې دا معلومه شي چې څوک د دوی د غوښتنې خلاف ډیپورت کیږي نو پیلوټکولی شي د الوتکې له الوتنی څخه انکار وکړي.

> یادونه: که چیرته څوک ناست نه وي نو پولیس اکثرا د خلکو په وړاندې دتاوتریخوالي نه کار اخلي.

- که تاسو ډیر ناروغه یاست نو ډیپورتیشن کیدیشي ودرول شي.

> یادونه: ځینې وختونه پولیس هڅه کوي چې تاسو ته د خوب راستلو درمل درکړی. تاسو تل حق لرئ چې د هر ډول درملو خوړلو پر وړاندېمقاومت وکړئ.

## په Ausländerbehörde کې د دیپورتیشن پر ضد مقاومت

- په یاد وستاتی چی ډیری ډیپورتیشن د غرمې مخکی ترسره کیږي. له همدې کبله خلک اکثرا یوازې پس له ماسپښینه اوسلنډربیهورډه تهځي.
- او خلک اکثرا د ملاقات په ورځ Ausländerbehörde ته نه ځي ، پرځای یې راتلونکی یا یوه ورځ مخکی د داکتر سند سره ورځي. خلکاکثرا د یو ملګري سره Ausländerbehörde ته ځي چې له دوی سره د دډیپورتیشن کیدو څخه مخنیوي کې مرسته وکړي او هلته پولیسوڅاړي .

> یادونه: یوځل چې پولیس پوه شي چې تاسو په ودانۍ کې یاست ګزمه هلته تاسو په ودانۍ او شاوخوا د ودانۍ لټوي. خلک ځینې وخت د خپلو اسنادو چمتو کولو وروسته ودانۍ پریږدي او خپل ملګري نه غوشتنه کوي ترڅو د دوی اسناد تر لاسه کړي.

## د اوږد موده لپاره د ډیپورتیشن نه مخنیوی

دا سی لاری چاری شتون لري چی تاسو ته دا حق درکوي چی په المان کی پاته ش:

- مثلا طبي لاملونه: د ډاکټر سند که دا ثابته کړي چې تاسو د فزیکي یا رواني ناروغی له وجی سفر کولو توان نلرۍ نو کولی شی چیډیپورتیشن وځنډوۍ او یا یی ودروۍ.

> یادونه: د ډاکتر دا ډول سند باید خورا سم او لنډ وي. په ده هکله د وکیل او یا یو سلاکار سره خبرې وکړئ چی تر څو وګوري چې ستاسود ډاکټر سند سم دی.

- اوسبلډنګ: که تاسو ښه الماني خبرې کولی شۍ (په مثال ډول B1 یا غوره) نو امکان لري چې د 1 کال نه تر 4 کلونو لپاره د مسلکي روزنېکورس ترسره کړئ چې د آسبلډنګ په نامه یادیږي. ځکه ډیری خلک چې په حرفوي زده کړو بوخت وي نو د ډیپورتیشن کیدلو اجازه ورتهنشته. د آیسبلډنګ بشپړولو وروسته تاسو ممکن په آلمان کې د اوسیدو اجازه ترلاسه کړئ.

> یادونه: دا انتخاب خورا ستونزمن دی که تاسو فکر کوئ اوسبلډنګ ستاسو لپاره یو ښه انتخاب دی نو له یو وکیل یا مشاور سره خبرېوکړئ.

- واده : که چیرته تاسو د المان یا د اروپایی اتحادیې پاسپورټ لرونکو سره واده وکړی (ځینې وخت د دایمي اسنادو لرونکي) تاسو ته به پهآلمان کې د پاتې کیدو اجازه درکول شي.

> یادونه: د واده کولو د اړتیاو په اړه معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د دې پروسې پیل کولو دمخه د یو وکیل یا قانوني مشاور سره خبرېوکړی.

- Härtefallkommision:که تاسو قوی بشری دلایل ولرئ او د ادغام لپاره مو پراخې هڅې کړي وپ د مثال په توګه؛ ښه الماني ژبه، ښهدنده درلودل نو دا کمیټه به ځانګړې قضیې په پام کې ونیسي. په ځینو مواردو کې د اوسیدو جواز درکول کیږي.

> یادونه: که تاسو فکر کوئ دا ستاسو لپاره یوشرط دی له وکیل یامتخصص(Härtefallberatung سره خبرې وکړئ.



ایا تاسو د خپل دیپورټیشن خطر په اړه ډاډه نه یاست؟
د یو وکیل اویا حقوقي مشاور سره تماس ونیسئ.

مهربانی وکړی دا پیغام په خپل کمپ کی تیت او
دوستانو سره یی شریک کړی.

## د ډیپورټیشن پر ضد تازه معلومات ترلاسه کړئ

د وروستي معلوماتو ترلاسه کولو لپاره زمونږ فېسبوک/ ټلیګرام پاڼه وګاڼ‌ری. موږ به هلته تاسو ته د ډیپورټیشن په اړه تازه معلومات درکړو. او همدارنګه به په برلین / برینډنبرګ کې د ډپورټیشن پر ضد لاریونونو او بلنو په اړه تازه معلومات درسره شریک کړو.

DEPORTATION ALARM

## زمونږ سره اړیکه ونیسئ

که تاسو یا یو څوک چې تاسو یی پیژنئ چی د ډیپورټیشن ګواښ سره مخ وي او غواړي چی د ډیپورټیشن مخنیوی یی وشي نو تاسوکولی شئ زمونږ سره په هره ژبه د WhatsApp له لارې اړیکه ونیسی. مونږه یواځینی مرجع یو چی کولی شو تاسو سره د ډیپورټیشن پرضد مرسته وکړو.

## اړیکه

په هره ژبه له WhatsApp له لاره (یوازې پیغام) اړیکه ونیسی.

0151 282 112 52